## بسم الله الرحمن الرحيم

## د الله سبحانه وتعالی د نافرمانۍ په صورت کې د مخلوق اطاعت جايز نه دی

په سنن ابن ماجه کې له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د يوې ډلې لپاره عبدالله بن حذافه رضی الله عنه د امير په توګه و ټاکه. زه هم ور سره وم، په لاره کې داسې ځای ته ورسېدو چې خلکو د لوبو په ميدان کې زيات اور بل کړی و؛ عبدالله بن حذافه ملګرو ته وويل: ايا زما اطاعت پر تاسو واجب نه دی؟ ملګرو وويل هو، واجب دی، عبدالله بن حذافه وويل: تر اوسه چې مې هرڅه درته ويلي، زما اطاعت مو کړی، خو اوس غواړم تاسو امتحان کړم چې زما په امر څوک دغه اور ته ځان اچوي او کنه. کله چې عبدالله د خپلو ملګرو چمتووالی وليد، نو ورته ويې وويل: خپل ځان په اور کې مه اچوئ ما در سره ټوکې کولې. دغه پېښه تر را ګرځېدو وروسته له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره شريکه شوه، هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**(من امركم منهم بمعصية الله فلا تطيعواه)**

***ژباړه:*** *هر څوک چې تاسو ته د الله سبحانه و تعالی په نافرمانۍ امر کوي، د هغه اطاعت مه کوئ.*

د دې تر څنګ پورته حديث د يو بل حديث مفهوم هم واضيح کوي. د الله رسول صلی الله عليه وسلم په بل ځای داسې فرمايلي دی:

**( لا طاعة للمخلوق فی معصية الخالق)**

*رواه احمد و طبراني*

***ژباړه:*** *په هغه ځای کې د مخلوق اطاعت مه کوئ، چې د خالق نافرماني په کې راځي.*

که متوجه شو، موږ په اوس وخت کې څومره د دغه حديث پلي کېدو ته اړتيا لرو، په ځانګړې توګه هغه وخت چې موږ د نا اهله واکمنانو له اصلي څېرې څخه خبر شو؟ نو پر همدې اساس د هغو واکمنانو او علماوو خبره، چې د الله سبحانه و تعالی د شريعت خلاف وي، اطاعت يې جايز نه دی، بلکي يوازې د هغو اميرانو اطاعت واجب دی چې خبره يې د الله سبحانه و تعالی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له سنتو سره مطابقت ولري. که څه هم امير حبشي غلام وي.

درنو لوستونکو! تر هغو چې بيا هم تاسو ته بل حديث ارايه کوو، تاسو پر بې نيازه الله سپارو.

**والسلام على من اتبع الهدى**